د افغانستان اسلامي امارت

لوړو زده کړو وزارت

شیخ زاید پوهنتون ریاست

محصلانو چارو معاونیت

اجرائیه مدیریت

گڼه: ________ نیټه: ۱۴۴۷/۸/۱۵ هـ ق مطابق: ۱۴۰۴/۱۱/۱۴ هـ ش

بسم الله الرحمن الرحیم

د ژورنالیزم پوهنځي محترم ریاست ته!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

**موضوع: د محصلینو د حقوقو او عدالت د تأمین تګلارې (پالیسی) د تطبیق په تړاو:**

محترما!

د محصلینو د حقوقو او عدالت د تأمین تګلاره (پالیسی) د شیخ زاید پوهنتون د علمي شورا په (۹) پروتوکول، د ۱۴۰۴/۱۰/۲۲ هـ ش نېټې غونډه کې تأیید شوې ده. له همدې امله، یاده تګلاره د وروستیو اجراءآتو او عملي تطبیق په موخه ستاسو اداري ته استول کېږي. هیله ده چې د خپلې اړوندې ساحې په کچه لازم اجراءآت ترسره او د تطبیق په برخه کې پوره پاملرنه وکړئ.

والسلام

مفتي رضوان الله منیب

د محصلانو چارو مرستیال

کاپي:

1. ( ) شرعیاتو پوهنځي محترم ریاست ته!
2. ( ) ټولنیزو علومو پوهنځي محترم ریاست ته!
3. ( ) وترنري پوهنځي محترم ریاست ته!
4. ( ) طب پوهنځي محترم ریاست ته!
5. ( ) انجینري پوهنځي محترم ریاست ته
6. ( ) کرنې پوهنځي محترم ریاست ته!
7. ( ) کمپیوترساینس پوهنځي محترم ریاست ته
8. ( ) ژبو او ادبیاتو پوهنځي محترم ریاست ته!
9. ( ) اقتصاد پوهنځي محترم ریاست ته!
10. ( ) حقوقوپوهنځي محترم ریاست ته!
11. () ښوونې او روزنې پوهنځي ریاست ته!
12. علمي چارو محترم معاونیت ته!
13. مالي ادري چارو محترم معاونیت ته!
14. محصلانو چارو محترم آمریت ته!
15. محصلانو خدمتون انسجام آمریت ته!

info@szu.edu.af https://szu.edu.af کابل عمومي سړک ۱۲۰۰ فامیلي شمال لوري خوست، افغانستان

CamScanner

د افغانستان اسلامي امارت

لوړو زده کړو وزارت

شیخ زاید پوهنتون ریاست

محصلانو چارو معاونیت

# په شیخ زاید پوهنتون کې د محصلینو اړوند

# د حقوقو او عدالت د تأمین تګلاره (پالیسي)

کال: ۱۴۴۷ هـ ق، مطابق ۱۴۰۴ هـ ش

مقدمه:

بسم الله الرحمن الرحيم

**الحمد لله رب العلمين و الصلوٰة و السلام على سيد المرسلين و على آله و أصحابه أجمعين.**

دا چې د ټولنې هر وګړي ته په عدل سره د هغه حقوق ورکول د اسلامي شریعت یوه مهمه ځانګړتیا او د نظامونو د استحکام او بقا لپاره یو مهم عنصر دی، نو په همدې اساس په اداراتو کې د عدالت د تطبیق په خاطر د یوې پالیسی شتون اړین دی، ترڅو حق،حقدارته ورسېږي او د چا حق ضایع نشي.

څرنګه چې شیخ زاید پوهنتون د علومو په تولید، عام کولو، مدیریت او کټې اخیستنې، د څېړنیزو فعالیتونو په تر سره کولو او ځوان نسل په علم او تخصص باندې چمتو کولو کې د قوي ظرفیت او د تخنیکي او انساني سرچینو لرونکی دی چې په مختلفو رشتو کې د ټولنې له اړتیاوو سره سم په لوړ معیار او کیفیت سره ماهر او متخصص کسان روزي او ټولنې ته یې وړاندې کوي، نو په پوهنتون کې د محصلینو د علمي، عملي او تخصصي زده کړو اړوند بېلابېلو چارو د ښه تنظیم او ترتیب په موخه دغه پالیسي تدوین شوه، ترڅو اسلامي ارزښتونو ته ژمن، متخصص او پوه ځواک روزلو او د محصلینو تر منځ د ملی یووالي او هېوادنی مینې د روحیې پیاوړتیا په پار یادې چارې په درست او شفاف ډول مدیریت او تطبیق شي.

CamScanner

# لومړی فصل

# عمومي حکمونه

## د تدوین موخه :

دا چې شیخ زاید پوهنتون د افغانستان د مهمو علمي مراکزو له جملې څخه دی او په زرګونو تعداد سره محصلین په کې پر زده کړو بوخت دي، نو دا پالیسي تدوین شوه ترڅو د دې په رڼا کې په پوهنتون کې د محصلینو اړوند کامل عدل تأمین شي.

## فرعي موخې :

1. د تحصیلي فعالیتونو په بهیر کې د شرعي احکامو رعایت او د محصلینو لپاره د سالم او خوندي اکاډمیک چاپېریال رامینځته کول.
2. د اسلام د سپېڅلي دین له احکامو سره سم په پوهنتون کې د ښوونیزو، روزنیزو او فکري اصلاحاتو د فرصتونو برابرول.
3. په نظري پوهه، عملي مهارتونو او د هېواد د اړتیاوو سره سم د علومو په مختلفو رشتو کې په مطلوب سلوک سره د لیسانس او له هغه څخه تر لوړو تحصیلي درجو، د متخصصینو او علمي کادرونو روزلو لپاره زمینه برابرول.
4. د تحصیل او څېړنې د وسایلو، کتابونو، درسي او ممد درسي موادو څخه د استفادې په موخه د محصلینو هڅول.
5. د عقد شوېو حقوقي اسنادو پر بنسټ د اړوندو کتابتونونو، درسي ټولګیو، ورزشي او ټولنیزو کلبونو، لابراتوارونو، تدریسي روغتونونو، روغتیایي کلینیکونو، تخنیکي- تدریسي ورکشاپونو، د ساحوي او څېړنیزو تطبیقاتو د ځایونو، د کرنیزو او مالدارۍ د څېړنیزو فارمونو، حقوقي کلینیکونو، تمثیلي حقوقي محکمو، رادیو تلویزیونونو او ورته کمپیوټر پروګرامونو څخه د استفادې زمینه رامینځته کول.
6. په تحصیلي بنسټ کې د اکاډمیک نظم او ډسپلین رامنځته کول.
7. د محصلینو له علمي، تدریسي، څېړنیزو او اداري چارو څخه مراقبت او څارنه.
8. د علمي مجلسونو (سیمینارونو، ورکشاپونو او کنفرانسونو) جوړول.
9. د محصلینو د ازموینو او پارچو څخه د څارنې لپاره یو منظم نظام برابرول.
10. د لیلیې او بدل اعاشې په توزیع کې داسې اصول برابرول او د هغو تطبیقول چې حق حقدار ته ورسیږي.
11. په شیخ زاید پوهنتون کې د نافذه اصولو، فرامینو او احکاماتو په تطبیق کې د عدالت مراعتول.
12. د اصولو، احکامو او فرامینو د رعایتولو په پار د خبراوي برنامې دایرول.

## اصطلاح ګانې:

لاندې اصطلاح ګانې، په دې پالیسی کې، د دغو مفاهیمو لرونکي دي:

1. **محصل:** هغه شخص دی چې د پوهې او مهارتونو د ترلاسه کولو په موخه د لیسانس یا له هغه څخه په لوړه کچه، تاکلې برنامه د اړوند تحصیلي اصولو او لایحو مطابق تعقیبوي.

2. **پوهنځی:** علمي، تحصیلي او اداري واحد دی، چې د لیسانس یا له هغه څخه د لوړې کچې زده کړو په موخه د پوهنتون په چوکاټ کې فعالیت کوي.

3. **د دعوت او ارشاد کمېټه:** د دعوت او ارشاد آمر او هغو متعهد محصلینو څخه جوړه شوې کمېټه ده، چې په پوهنتون کې د پوهنځیو په تناسب سره د محصلینو د اصلاحي ، تربیتي او د متعهدو ملګرو د انسجام اړوند فعالیتونو ترسره کولو په موخه ټاکل کېږي.

4. **اکاډمیک تقویم:** د سمسترونو د پیل، پای او ازموینو د اخیستلو د نېټې تعیین دی.

5. **د لیلیې شورئ:** د لیلیې په چارو کې د تصمیم نیونې مرجع ده، چې د لیلیې د چارو د تنظیم او اړوندو نورو مسایلو او موضوعاتو ته د رسېدو په موخه فعالیت کوي.

## د پلي کېدو ساحه:

دا تګلاره (پالیسي) د شیخ زاید پوهنتون اړوند ټولو منسوبینو باندې د پلي کېدو وړ ده.

# دویم فصل

# د محصلینو د فکري اصلاح اړوند چارو تنظیم

## د عقل او فکر حفاظت:

څرنګه چې د شریعت په مقاصدو کې یو اهم مقصد د ټولنې د وګړو د عقل او فکر حفاظت دی، نو همدې اصل ته په کتو د شیخ زاید پوهنتون د محصلینو فکري اصلاح ته ځانګړې پاملرنه د محصلینو له مهمو حقوقو څخه شمېرل کېږي.

زموږ ګران هیواد افغانستان چې یو اسلامي هیواد او د یرغلګرو په مقابل کې له حقې او قوي مبارزې څخه ډک تاریخ لري، نړیوال استعمار او غرب بیا بیا هڅه کړې ده، تر څو زموږ د مسلمان ملت د هیلو په خلاف د اسلام د مبارک دین د تعلیماتو د زده کړې مسیر او شرعي احکام منحرف، او له خپل جوړ کړي منحرف تعلیمي او تحصیلي نصاب سره یې برابر کړي، تر څو زموږ راتلونکی نسل د اسلامي شریعت او د هغه له مقدسو احکامو څخه لرې وساتي، دا په داسې حال کې چې د ټولو علمي پرمختګونو او لاسته راوړنو یوازېنی مرجع علم ده، چې د ټول بشریت د دنیوي او اخروي ژوند د کامیابی راز پکې نغښتی دی. د محصلانو د عقل او فکر د حفاظت او همدارنګه د اصلاحي او تربیتي روزنې اړوند فعالیتونه د دعوت او ارشاد آمریت او همدارنګه د دعوت او ارشاد کمېټې لخوا ترسره کېږي.

## د اصلاحي او تربیتي روزنې اړوند فعالیتونو ترسره کولو موخې:

شیخ زاید پوهنتون کې د محصلانو اصلاحي او تربیتي روزنې اړوند فعالیتونه د لاندې موخو د حصول په پار تر سره کېږي:

1. په محصلانو کې شرعي احکامو ته ژمنتیا او تعهد رامنځته کول.
2. په محصلانو کې د اشداء علی الکفار رحماء بینهم ... او اعزة علی الکافرین اذلة علی المؤمنین ... روحیه پیدا کول.
3. په محصلانو کې د عقیدوي، عملي، اخلاقي او اصلاحي مکلفیتونو ترسیخ.
4. په محصلانو کې د اسلامي فکر او اسلامي فرهنګ خپرول.
5. د محصلانو لپاره د اصلاحي او دعوتي غونډو تنظیم او تدویر.
6. د اسلامي نظام د بقاء او استحکام لپاره مخلص، مجاهد، علمي او مسلکي کادرونه روزل.
7. په محصلانو کې د خدمت اوایثار جذبه تقویه کول.
8. په محصلانو کې د اسلامي امت د تاریخ، فعلي وضعیت، ځانګړتیاوو او قضایاوو په اړه فکر ته وده ور کول.
9. په محصلانو کې د استاد د مقام درناوي او ارزښت ته کار کول.
10. په محصلینو کې د علماوو او مشائخو سره د دوامدارو اړیکو او مجالسو د دایرولو او محبت تقویه.



SHAIKH ZAYED UNIVERSITY ۱۳۸۱
Vice Chancellor For Students Affairs ۱۳۸۱
CamScanner

## د پوهنتون د دعوت او ارشاد کمېټې د غړو اړوند شرطونه:

- د کمېټې غړي باید د اسلامی فکر درلودونکی، شریعت او شعائرو ته متعهد وي.
- د کمېټې غړي باید د امام ابو حنیفه رحمه الله د مذهب مقلد او پیروان وي.
- د کمېټې غړي باید د اسلامي امارت له فکر، منهج او اصولو سره بلد وي.
- د کمېټې غړي باید صورتاً او سیرتاً د نبوي سنتو برابر وي.
- د کمېټې غړي باید هېڅ ډول حزبي عضویت او میلان و نه لري.
- کمېټې غړي باید پوه، وېښ، څېرک او د ښه استعداد لرونکی وي.
- د کمېټې غړي باید د دعوت او ارشاد د آمر لخوا تائید وي.

## د درسونو او بیانونو موضوع ګانې:

د دعوت او ارشاد آمریت او اړوند کمېټې لخوا لاندې ذکر شوي درسونه او موضوع ګانې او یا د وخت او حالاتو سره سم نورې موضوع ګانې پخپله د دعوت او ارشاد د آمر، امام، مبلغ او یا نورو بېلابېلو علماء کرامو او شیوخو عظامو لخوا په مناسبو وختونو د بیان او یا هم د سیمینار په شکل وړاندې کېږي:

| | |
|---|---|
| ۱: د سهار لمانځه وروسته د تجوید درس | ۲: د قرانکریم د سورة التوبه او سورة النور ترجمه |
| ۳: سیرة النبی صلی الله علیه وسلم | ۴: فقه العبادات |
| ۵: د شرعی نظام په استحکام کې د اطاعت اغېزې | ۶: د مسلمانانو د ضعف اسباب او د ځوانانو مسؤولیت په جامعه کې |
| ۷: د انسان د پیدایښت مقصد او د اسلام ارکان | ۸: په ټولنیزو رسنیو کې روان جګره او د افغانستان معاصر تاریخ |
| ۹: نیت، زهد او تقوا | ۱۰: د نبي کریم صلی الله علیه و سلم شفاعت، کفر او شرک قسمونه |
| ۱۱: د اسلامي نظام اهمیت او فواید | ۱۲: د امام ابوحنیفه رح مناقب او د مذهب تدوین |
| ۱۳:اسلامي تربیه | ۱۴: په اسلام کې د ښځې مقام، حقوق،حجاب او واجبات |
| ۱۵: د جهاد فضائل او مسائل | ۱۶: د جماعت او تهجدو فضیلت |
| ۱۷: د اسلامي شریعت اهداف او مقاصد | ۱۸: د توبې فضیلت او له بد ګمانی څخه خان ساتل |
| ۱۹: د تکبر ضررونه او د تواضع ګټې | ۲۰: د اسلامي امارت د مشرانو څخه د شکایت نه خان ساتل |



CamScanner

۲۱: د رېبرۍ حکم او اهمیت په اسلام کې

۲۲: له تعصب څخه ځان ساتل او د مطالعې اصول

۲۳: اخلاق حسنه

۲۴: د اسلامي امارت پرتولو پرېکړو اعتماد کول

۲۵: د اهل سنت او الجماعت عقیده

۲۶: د خوارجو عقاید او الله تعالی ته د نېږدېکت لاره

۲۷: د قبر عذاب د قیامت ورځ اوعلامې

۲۸: په اسلام کې د امر بالمعروف اهمیت

۲۹: د ایمان تشریح د نبوي سنتو اتباع او اهمیت

۳۰: د وخت ارزښت او کارته ژمنتیا

۳۱: د اتفاق او اتحاد اهمیت

۳۲: د اسلامي نړۍ سیاسي وضیعت او له علماء سره د مشورې کولو اهمیت

۳۳: آداب طعام

۳۴: د عالیقدر امیرالمومنین حفظه الله تعالی ورعاه د فرامینو تطبیق او د هغه اهمیت

۳۵: د احزابو پېژندنه او د مسلمانانو حقوق

۳۶: امامت کبری او د جمهوري نظام پېژندنه او مقاسیه یې.

۳۷: د سترګو غوږونو او ژبې حفاظت

۳۸: د اسلام په وړاندې د غرب پلانونه

۳۹: د ایمان بیان او شعبې

۴۰: د شل رکعته تراویحو حکم او د امت اجماع په کې

۴۱: توسل

۴۲: د سنتون اتباع او د هغې اهمیت

۴۳: د لمانځه،جماعت او تهجدو فضیلت

۴۴: د انسان حلقیت د قراني نصوصو په رڼا کې

۴۵: د جهاد حقیقت او اهمیت

۴۶: هغه حرمتونه چې په نصوصو کې موجود دي لکه خمر، ختزیر میتة

۴۷:د مخدره موادو ضررونه

۴۸: د دنیا د تخلیق مراحل په نصوصو قرانیو کې

۴۹: د امیر اطاعت او د امیر حقوق

۵۰: د اسلامي امارت پالیسي او دارالاسلام څخه دار الکفر ته د تللو حکم او ضرورنه



CamScanner

# دریم فصل

# د محصلینو حقوق او مکلفیتونو اړوند چارو تنظیم

## د محصل حقوق

د پوهنتون محصل، د لاندې حقوقو او امتیازونو لرونکی دی:

1- په تحصیلي برنامو کې نظري او عملي زده کړو ته لاس رسی.

2- د مونوګرافونو، د ډیپلوم د پروژو، سیمینارونو او د علمي کنفرانسونو په برابرولو کې لارښوونې ته لاس رسی.

3- د زده کړې د وضعې د ښه والي لپاره وړاندیز کول.

4- د نافذه تقنیني سندونو او اصولو سره سم ادبي، فرهنګي او علمي فعالیتونو ته لاس رسی.

5- له ورزشي او روغتیايي خدمتونو څخه استفاده.

6- د اړونده اصولو سره سم، د لیسانس په دوره کې د لیلیې له امتیاز څخه استفاده.

7- هغه محصل چې د تحصیل دوره په بریالیتوب سره پای ته رسوي، د تحصیلي رشتې او درجې مطابق، هغه ته تحصیلي سند (ډیپلوم) او د نمرو ټرانسکرېټ د تعین شوي قیمت په مقابل کې ورکول کیږي.

## د محصل مکلفیتونه

محصل د لاندې مکلفیتونو لرونکی دی:

1 . د شرعي احکامو، قوانینو، فرامینو، لایحو، مصوبو او اړوند طرزالعملونو د حکمونو رعایتول.

2 . په درسي برنامو کې فعاله ونډه اخیستل.

3 . په اکاډمیک چاپېریال کې شرعي لباس مراعتول، حمیده سلوک، اخلاق، نظم او ډسپلین رعایتول او د نورو له آزارولو او ځورولو څخه ډډه کول.

4 . د تحصیلي بنسټ له ودانیو، وسایلو او نورو اسانتیاوو څخه مسئولانه استفاده.

5 . په اکاډمیک چاپېریال کې له هر ډول قومي، ژبني او سمتي تعصب او تبعیض څخه ډډه کول.

6 . په اکاډمیک چاپېریال کې د هېواد له رسمي مذهب پرته له هر ډول مذهبي او سیاسي فعالیت او ځرګندونو څخه ډډه کول.

## د اصولو، فیصلو او احکامو تطبیق :

د شیخ زاید پوهنتون هر معاونیت به اکاډمیک تقویم په نظر کې نیولو سره، په خپل وخت د اصولو، فرامینو، نافذه قوانینو او احکامو د تطبیق په موخه بېلابېلې برنامې نیسي، ترڅو محصلین د اړونده اصولو، فرامینو، نافذه قوانینو او احکامو په رڼا کې له خپلو حقوقو او مکلفیتونو څخه خبر او پر ځان يې تطبیق کړي.



SHAIKH ZAYED UNIVERSITY ۱۳۸۱
Vice Chancellor For Students Affairs ۱۳۸۱

CamScanner

## محصلینو سره د کارمندانو د رویې او چلند موضوع:

شیخ زاید پوهنتون کې د محصلینو د روزنې په خاطر د لوړو زده کړو وزارت لخوا کې شمېر استاذان او کارمندان مؤظف کړل شوي دي، نو د پوهنتون ټول منسوبین باید د محصلینو مشکلات په درست شکل حل او رسیدګي ورته وشي او له بدې رویې او چلند څخه په کلکه ډډه او اجتناب وکړل شي.

د شیخ زاید پوهنتون د محصلانو معاونیت به د کارمندانو د رویې د ارزولو په پاریو پوښتن پانه ترتیب کړي، چې په مختلفو وختونو کې به محصلینو ته ورکول کیږي، ترڅو شکایتونه یې ثبت او د ورستیو کړنو په پار د شکایاتو د کمېټې سره شریک شي.

## د محصلینو د علمي سفرونو په اړه:

د اوسني عصر له ځانګړنو او اړتیاوو څخه یوه هم د بېلابېلو وزارتونو، ریاستونو او ادارو له شته امکاناتو څخه معقوله ګټه اخیستنه ده، چې د ټاکل شویو موخو د لاسته راوړلو لپاره یې ترسره کړي. د علمي، څېړنیزو، تخنیکي او مسلکي ادارو ترمنځ د همغږۍ د اسانتیا لپاره د هوکړې او متقابلو همکاریو د هوکړه لیک لاسلیک کول یو اړین عمل ګڼل کېږي، څرنګه چې په ټوله نړۍ کې د لوړو زده کړو بنستونه د هېواد د ټولو تخنیکي او خدماتي ځانګو د مسلکي کارکوونکو روزنیز مرکز بلل کېږي، نو ویلی شو چې یاد بنستونه د بشري ټولنو د تشبث، پرمختګ او ودې مرکزونه دي.

شیخ زاید پوهنتون د یوې منظمې تحصیلي ادارې په توګه او د تجربه لرونکو استادانو او د څېړنیزو او تحصیلي امکاناتو په لرلو سره د زده کړیزو او مسلکي خدمتونو وړاندې کولو او د علمي کادرونو د روزنې په بیلا بیلو برخو کې فعالیت کوي. یاد پوهنتون د علمي څېړنو او مسلکي بنستونو په غښتلتیا سره د محصلینو لپاره د زده کړو سالم فرصتونه رامنځته کوي. شیخ زاید پوهنتون د خپلو فعالیتونو د مخته وړنې په پار او د موخو د لاس ته راوړنې لپاره، په ملي، سیمېېزه او نړیواله کچه له وزارتونو، امارتي او خصوصي ادارو سره د ښه او ګټورو اړیکو تامینولو لیوال دی او هڅه کوي، دغه اړیکې لا پسې غښتلې شي، ترڅو د یو بل له علم، تخصص، تجربو او پرمخ تللي لابراتواري وسایلو څخه استفاده وشي.

محصلینو لپاره د بېلابېلو ادارو د علمي سفرونو برابرولو مقصد دا دی چې د متقابلو ګټورو اړیکو د پیاوړتیا لپاره د دواړو خواوو د متخصصینو له مهارتونو او تجاربو څخه معقوله او هدفمنده ګټه واخیستل شي. د اړیکو ټینګښت د تجربو د تبادلې او د ټولنیزو ګډونوالو له سرچینو اغېزناکه ګټه اخیستنه د تعلیمي او تحصیلي خدمتونو په وړاندې کولو کې د کیفیت لوړوالی د اغېز د زیاتوالي لامل کرځي. ګډ کار او هغو تخصصي بنستونو د تخنیکي وسایلو څخه ګټه اخیستنه چې مشترک نظرونه، موخې، ماموریتونه او پلانونه لري، ادارې ته د دې ورتیا وربښې چې له اوسني وضعیت څخه د خلاصون او مطلوب حالت ته د ورتګ لپاره مناسبې لارې پیدا او متوقعه موخو ته لاسرسی آسان او باوري کړي.



د شیخ زاید پوهنتون SHAIKH ZAYED UNIVERSITY ۱۳۸۱
معاونیت امور محصلان د محصلانو چارو معاونیت ۱۳۸۱ Vice Chancellor For Students Affairs
CamScanner

## د علمي سفرونو منظمولو لپاره اړين ګامونه:

د علمي سفرونو په منظمه توګه ترسره کولو په موخه به د محصلانو چارو معاونیت د پوهنځیو په همکارۍ لاندې کارونه ترسره کړي:

1. یو منظم فورم به ترتیب کړي چې د هغې په وسیله به د علمي سفر ضرورت او اهداف معلوم کړي.
2. د هر سمستر په پیل کې به یاد فورم ټولو پوهنځیو ته استول کیږي او د علمي سفر اړوند موارد به راجمع کیږي.
3. له پوهنځیو څخه رالیږل شوي موارد به د محصلانو چارو د انسجام آمریت توحیدوي او د علمي سفرونو اړوند یو منظم پلان به ورته جوړوي.
4. د علمي سفرونو اړوند پلان به د پوهنتون د علمي شورى له تاییدۍ وروسته په پوهنتون کې د علمي سفرونو د پلان په حیث صورت مومي، ترڅو په واقعي او درست شکل هر علمي سفر ترسره او کتوري لاسته راوړني ولري.

## عملي کارونه:

د لوړو زده کړو وزارت د علم د تولید عاملولو، مدیریت او تطبیق په برخه کې د پوهنتونونو د لارښود بنسټ په توګه، د څېړنیزو فعالیتونو په ترسره کولو او د ځوان نسل د علم او تخصص په ګانه سمبالولو لپاره قوي تخنیکي او انساني ظرفیت لري، په دوامداره توګه ماهرین استخداموي او د ټولنې اړتیاوو سره سم په مختلفو برخو کې متخصصین روزي، په غوره کیفیت او معیارونو سره د ټولنې اړتیاوو سره سم متخصص کادرونه روزي او د عملي کار لپاره یې ټولنې ته وراندې کوي، همدارنګه د عملي فعالیتونو لپاره د مناسبو فرصتونو رامنځته کول، د اکاډمیکو غړو علمي څېړنې او په بېلابېلو وزارتونو او ادارو کې د کاري برخو او رشتو سره سم د محصلینو لپاره د کارزده کړې لندمهاله کورسونه برابرول د لوړو زده کړو وزارت له لومړیتوبونو څخه دي.

د شیخ زاید پوهنتون د محصلانو چارو معاونیت هڅه کوي چې د عدالت، شفافیت او مساوي فرصتونو اصل د ټولو ګرانو محصلینو لپاره رعایت کړي. له همدې امله، ټول محصلین بې له تبعیض او توپیر، د یوې منظمې او نوبتي برنامې له مخې، له پوهنتون څخه بهر عملي او تحقیقي کارونو ته معرفي کېږي.

د محصلینو د کارزده کولو دوره، د محصلینو د شمېر او د عملي زده کړو د وخت ټاکل، علمي څېړنې، د دیپلومونو د پروژو بشپړېدل، د تیزیسونو ترتیب او د محصلینو د عملي زده کړو او د کارزده کولو په دوره کې د شاملو محصلینو د تعهد فورمه دکولو کې همکاري، د محصلانو چارو معاونیت اړوند د محصلانو چارو د انسجام آمریت خپل مسئولیت ګڼي.

## د ازموینو نمرې پر وخت په سیستم کې ثبتول:

دا چې د نمرو د جدول ترتیب، شکایتونو ته د رسېدنې او د تحصیلي بهیر د راتلونکو پړاوونو لپاره زمینه پر وخت برابره شي، هر محترم استاد مکلف دی چې د محصلینو نمرې له ازموینې درې څخه تر پنځه ورځو پورې په سیستم کې ثبت کړي. نمرې په ټاکلي وخت کې سیستم ته نه ثبتول نه یوازې د اداري او علمي چارو بهیر ټکنی کوي، بلکې پخپله محصلینو ته هم اندېښنه، ګډوډي او د پایلو او اسنادو په ترلاسه کولو کې ځنډ رامنځته کوي. له همدې امله ټینګار کېږي چې هر استاد مکلف دی چې خپلې نمرې په ټاکلي وخت کې سیستم ته وسپاري.

## د محرومو محصلینو په ګوته کول:

د دې لپاره چې د ازموینو د شفافیت له روند څخه اطمینان ترلاسه او د ازموینو جریان په ښه توګه کنټرول شي، په دې کې یوه مهمه خبره د محرومو محصلینو په ګوته کول دي. د محروم محصلینو په دقیقه توګه مشخص کولو لپاره به د محصلانو چارو معاونیت اړوند د محصلانو چارو آمریت لاندې فعالیتونه ترسره کوي:

1. د پوهنتون په کچه د ټولو صنفونو د ټولو مضامینو حاضري کاڼي را جمع کول
2. د هغه حاضري کانو تحلیلول
3. محروم محصلین په کې په نښه کول
4. د پوهنځي څخه د محرومو محصلینو راغلي لیستونه د محصلانو چارو معاونیت تر چتر لاندې د محصلانو چارو آمریت لخوا د ترتیب شویو لیستونو سره مقایسه کول او په آخر کې د اجراءآتو په موخه د نظارت په وخت کې د ازموینو کمیټې ته سپارل ترڅو د محرومو محصلینو په ازموینه کې د شمولیت مخه ونیول شي.

## د ازموینو پرچو، شوقو او د نتایجو په جدولونو کې د نمرو تدقیق:

د دې لپاره چې د ازموینو پرچو، شقو او همدارنګه د نتایجو جدولونه ته نمرې په دقیقه توګه رسېدلې وي، د محصلانو معاونیت اړوند د محصلانو چارو آمریت په مشرۍ او د ازموینو اصلي کمېټې د دوو غړو په غړیتوب یوه درې کسیزه کمېټه به د ازموینو پرچو، شوقو او د نتایجو جدولونو بیاکتنه ترسره کوي، تر څو په ټولو یادو شویو اسنادو کې نمرې په حقیقي او دقیقه توګه رسولو څخه اطمینان ترلاسه کړي.

## د ازموینو پر پرچو تجدید نظر :

دا چې د محصلانو د امتحاني پرچو تجدید نظر یوه مهمه مسئله ده، نو دې مسئلې د حل په موخه هم باید واضح اصول شتون ولري. په هغه صورت کې چې یو محصل د ممتحن استاذ لخوا په ورکړل شویو نمرو مطمئن نه وي، نو حق یې جوړېږي چې یاد محصل ته د تجدید نظر فرصت ورکړل شي. د تجدید نظر مراحل په لاندې توګه دي:

1. محصل به د تجدید نظر په خاطر اړونده پوهنځي ته مراجعه کوي او د یو مناسب جوړ شوي فورم په ذریعه، چې په کې به د ازموینو د فرعي کمېټې د دریو غړو، مربوطه استاد او محصل د قناعت په پار د امضاء ځای پرېښودل شوی وي، د اړوند پوهنځي ریاست مقام ته عریضه کوي.
2. د ازموینو فرعي کمېټې به د عارض ځواب پاڼه بیاځلې ګوري او خپل نظر به په فورم لیکي. که چیرې هلته د محصل اطمینان وشو نو یاده فورمه کې به محصل د اطمینان په خانه کې امضاء کوي او موضوع به د ازموینو فرعي کمېټه کې حفظ کېږي، مګر که چیرې د فرعي کمېټې پر نظر د محصل قناعت حاصل نه شو نو په فورم کې به محصل د عدم قناعت په خانه کې امضاء کوي او موضوع به د ازموینو فرعي کمېټې لخوا د ازموینو اصلي کمېټې ته راجع کېږي
3. د ازموینو فرعي کمېټې لخوا د ازموینو اصلي کمېټې ته راجع شوې موضوع به د یادې کمیټې لخوا یو ځل بیا تجدید نظر صورت مومي او له پوره تدقیق وروسته به تصمیم نیسي.
4. که د ازموینو اصلي کمېټې لخوا مشکل حل شو نو پرېکړه اړوند پوهنځي ته تکثیرېږي او که موضوع نور دقت ته هم ضرورت درلودلو نو د نهایی تصمیم په پار به د ازموینو اصلي کمېټې لخوا د پوهنتون علمي شورى ته راجع کېږي.



SHAIKH ZAYED UNIVERSITY ۱۳۸۱
Vice Chancellor For Students Affairs ۱۳۸۱

CamScanner

# څلورم فصل

# د لیلیې او بدل اعاشې اړوند چارو تنظیم

## لیلیې او بدل اعاشې ته د محصلینو معرفي کېدو په اړه:

دا چې په شیخ زاید پوهنتون کې د افغانستان د ټولو ولایتونو محصلین په تحصیل بوخت دي، نو د لیلې د ورکړې په اړه باید لاندې اصول په نظر کې ونیول شي:

1. د خوست ولایت لرې پرتو ولسوالیو محصلین، چې استوګن ځای یې د پوهنتون څخه له (۳۵) کیلو مترو څخه زیات واټن ولري، د دې پالیسۍ د حکمونو سره سم په لیلیه کې شاملېدای شي.
2. د محصل د استوګنې ځای او له پوهنتون څخه د لرې والي واټن اندازه د اړوندو ادارو لخوا د تثبیت او د لیلې شورى له ارزونې او تائید وروسته د اعتبار وړ دی.
3. په لیلیه کې شامل محصل په یو سمستر کې د ناکامۍ او محرومۍ په صورت کې، د هماغه سمستر د تکرار په مهال له لیلې څخه د استفادې حق نه لري، که چېرې د تکراري سمستر په پای کې لږ ترلږه د نمرو په (۶۵) سلنه اوسط اخیستلو بریالی شي، په لیلیه کې بیا شاملېدای شي.
4. که چېرې په لیلیه کې شامل محصل د یو تحصیلي کال (یو درسي ټولګي) په پای کې لږ ترلږه د نمرو (۶۵) سلنه اوسط بشپړ نه کړي، له لیلې څخه ایستل کېږي.
5. د لیلې محصل د تحصیل د تأجیل په دوران کې له لیلې څخه د استفادې حق نه لري.
6. په لیلیه کې شامل محصل د هویت د مخصوص کارت لرونکی دی، چې د لیلې د ادارې لخوا د هغه په مشخصاتو ترتیب او وېشل کېږي.
7. لیلې ته ننوتل او د هغې له امکاناتو او اسانتیاوو څخه استفاده کول په (۹) جزء کې د درج شوي کارت له درلودلو څخه پرته صورت نه مومي.
8. په لیلیه کې د لمانځه، خوړو او نورو چارو وختونه په درسي مهال وېش کې د بدلون او د کال د فصلونو مطابق، د لیلې د شورى لخوا ټاکل او تطبیقېږي.

## په لیلیه کې د شاملو محصلانو مکلفیتونه

1. محصلان مکلف دي، ترڅو په لیلیه کې دننه نظافت، نظم او ډسپلین په جدي توګه په پام کې ونیسي.
2. که د لیلې اړوند سامان آلات، وسایل او لوازم د محصل لخوا زیانمن او یا نوموړي شیان ضایع شي، له تثبیت وروسته نوموړی محصل د زیان په جبران مکلف دی.

3. په لیلیه کې شامل محصل په لاندې مواردو کې له تأدیبي جزا سره مخامخ کېږي:

ا –د استاذانو، محصلانو، د لیلیې د اداري او د پوهنتون د نورو منسوبینو بې احترامي کول.

ب – له زده کړې او لیلیې څخه له معقول عذر پرته مکرر غیابت.

## د لیلیې د چارو تنظیم

د لیلیو د چارو د تنظیم او د هغو اړوندو نورو مسایلو او موضوعاتو ته د رسېدو په موخه د لاندې ترکیب مطابق د لیلیې شورى جوړېږي.

۱ – د پوهنتون اداري او مالي مرستیال د رئیس په توګه.

۲ – د پوهنتون د محصلانو چارو مرستیال د د شورى د غړي په توګه.

۳ – د پوهنتون د رئیس په ټاکنه یو تن استاذ د غړي په توګه.

۴ – د محصلانو یو تن استازی، د یو زده کړه ییز سمستر لپاره د غړي په توګه.

۵ – د لیلیې مدیر د منشي په توګه.

(۲) د لیلیې شورى په هره میاشت کې یو ځل په عادي توکه غونډه کوي. فوق العاده غونډې د لیلیې شورى د رئیس په تصمیم د اړتیا له مخې دائیرېدای شي.

## د اجراء وړ ګرځېدل:

یاده تګلاره ( پالیسي ) د پوهنتون د علمي شورى له تائید وروسته د اجراء وړ ده.

د محصلان چارو معاونیت : ( )

دا پالیسي د علمي شورا د(۱۴۴۷/۷/۲۲ هق ۱۴۰۴/۱۰/۲۲ هش) نېټې په ( نهم (۹) ) پروتوکول کې تائید شوه.

د پوهنتون رياست ( )